۲۰۱۸/۰۸/۰۷

لیکوال: نور احمد خالدی

# دری یا فارسي لغاتونه د معادلو خارجي لغاتونو لپاره

ژباړونکی: نثار احمد الکوزی

د بي بي سي فارسي د گزارش له مخي په دې وروستيو کې د ايران د اسلامي جمهوريت د فارسي ژبې او ادبياتو د کلتورتون رئيس غلام علي حداد ويلي دي چې دا کلتورتون حاضر دئ د افغانستان د حکومت سره په دې هيواد کې د فارسي ژبې د کلماتو د بډايولو او ځای په ځای کولو لپاره مرسته وکړي. د بي بي سي له قوله ښاغلي حداد چې په تهران کې ئې د ايران او افغانستان د فرهنگي خبرو اترو په لومړی غونډه کې وينا کول داسې وويل: په ايران کې د پارسي ژبې او ادبياتو کلتورتون د خپلو فعاليتونو په لړ کې په دې توانيدلئ چې تر پنځه پنځوس زره ډير معادل فارسي معادل لغاتونه د خارجي لغاتونو لپاره پيدا کړي. موږ آماده يو دا لغاتونه د افغانستان حکومت ته هم ورکړو، تر څو د افغانستان په ښوونځيو کې د فارسي ژبې زده کړه لا آسانه سي.

سوال دادی چې آيا د خارجي لغاتونو لپاره د فارسي ژبې معادل لغاتو پيدا کول ضروري دي؟ آيا دا کار په ننني نړۍ کې، چې ورځ په ورځ د اړيکو او ارتباطاتو د تبادلې له مخي وړه کيږي زموږ د ځوانانو لپاره گټور تماميږي؟ آيا دا زموږ د ځوانانو په گټه تماميږي چې په ايران کې د فارسي ژبې او ادبياتو د کلتورتون د جوړو سوو لغاتو له مخي کمپيوټر ته (رايانه)، انټرنيټ ته (تارنما) او فيسبوک ته (رخنما) ووايي؟ آيا د يادو کلماتو په کارول او ددوی په شان په سلگونو نور جوړ شوی فارسی لغات زموږ ځوانان خپلو نړيوالو سيالانو ته نژدي کوي، که ليري کوي؟ په همدی توگه ايرانيان د خپلې ژبې څخه د عربي کلماتو د ليري کولو هم هڅي کوي.

په دې موضوعاتو د لا ښه پوهيدلو لپاره اړينه گڼم چې د دري ژبې (هغه چې ايرانيان ئې فارسي بولي) د رينبو او تکامل او د ايرانيانو دښمني د خارجي ژبو؛ په خاصه بيا د عربي سره؛ څه خبري وکړم. دري د افغانستان يو بومی د بومی ژبه او ددې سيمې د اقوامو نرمنځ اړيکه ټينگونکي ژبه ده. د (اليور روی) او نورو علماوو په اند خراسان، منځنی آسيا او بلخ د ننني دري او ايرانی فارسي ژبی د پيدايښت ځای دئ. دا ژبه د پخوانی پهلوي آشکاني، تخاري، سغدي، او نورو د ترکيب او گډولي څخه جوړه سوې ده. دري د پهلوي ژبې ادامه نه ده! د پهلوي ژبې سره ئې موازئ په يوه وخت شتون درلودئ، ورڅخه متاثره وه، او د پيريو په اوږدو کې د سانسکريت، پښتو، هندي، ترکي او عربي څخه شتمنه سوې ده. باختر، خراسان او ماورالنهر ته د اسلام تر رسيدو وروسته، د هراتي طاهريانو په موده کې دري د عربي رسم الخط ومنئ. کله چې اسلامي لښکرو په عراق عجم (ننني ايران) باندې برید وکاوه هلته پهلوي ژبه ويل کيدل، په داسې حال کې چې په خراسان، تخارستان، کابلستان،



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

سیستان، ماورالنهر او غرجستان خلک په دري ګړیدل. د سعدي او حافظ مورنی ژبه پهلوي وه. ایرانیانو خپله پهلوي ژبه په تدریج سره له لاسه ورکړل. د استاد (ملایري) له قوله عربو د پهلوي ژبي سره خاصه دښمني لرله، ځکه پهلوي د ساساني امپراطورۍ او مجوسیانو رسمي ژبه وه. عربو هلته ډیري کتاب سوځوني وکړي او وتوانیدل د دوو سوو کلونو په موده کي پهلوي له استعماله واچوي. ځکه خو نني ایرانیان د عربو سره خاصه دښمني لري او د فارسي-دري څخه د عربي اثارو د له منځه وړلو کوښښ کوي. دوی غواړي افغانان هم په دا نا مقدسه او بې لزومه مبارزه کي ونډه ورسره واخلي.

د وخت په تیریدو او واک ته د خراسانیانو او غیرعربو په رسیدو سره، په تېره بیا د صفاریانو په موده کي؛ دري یو د عربي پر ځای ددي خاوري د واکمنانو د دربارونو د لیکونو او مکتوبونو ځای ونیو. په تدریج او د سلجوقیانو او خوارزم شاهانو د امپراطوریو په پراخیدو سره دري د ماورالنهر څخه هغو سیمو ته چي اوس یې ایران بولي؛ ورسیدل او د هغو سیمو خلګو دري، چي اصلاً د د بلخ، ماورالنهر او خراسان خلګو ژبه ول؛ د پهلوي پر ځای ومنل او هغه ته ئې د (فارسي) نوم ورکړ. ددي پوښتني په ځواب کي چي ولي فارسي ته په هغو ځایونو کي، چي فارس نه دئ؛ هم فارسي ویل کیږي؛ استاد (ملایري) دا دلیل وړاندي کوي، چي فارسي نومول د دو پخوانیو امپراطوریو (هخامنشیانو، ساسانیانو) اوپه بلخ، ماورالنهر او خراسان کی ددوی فرهنګي تاثیرات له کبله دی. د افغانستان پر خاوري او رهبرانو باندي د صفویانو او افشاریانو سیاسي، نظامي او فرهنګي واکمني هم باید ناویلي پری نږدو. هر دلیل، چي وی خو بیا هم هغه زما د یو فیسبوکي ملګري له خولې؛ دری یوازنی ژبه ده چی د زوی نوم (فارسی) د پلار نوم (دري) په مقایسه ډیره مشهوره شوی دی.

هیره دي نه وي چي د استاد (ملایري) له قوله دري (هغه ژبي ته چي ایرانیان فارسي وایي) د پهلوي ژبي هم عصره وه، او د (فارسي قدیم)، (فارسي میانه) او (فارسي جدید) اصطلاحات د وروستیو کلونو تولیدات دي، او هیڅ علمي او تاریخي بنسټ نه لري. یاده دي وي، چي د فارس د خلګو ژبه د هخامنشیانو د امپراطورۍ پر مهال (ایلامي) یا (عیلامي) وه، نه (اشکاني پهلوي). په حقیقت کي ددې دروغجنو اصطلاحاتو کارول ددي لپاره دي، چي د فارسي- دري د نحوي تیرایستني لپاره خپل مالکیت وساتي. دري ژبه د نني افغانستان، تاجکستان، بخارا، سمرقند، ترمذ، خراسان (مروه، نیشاپور، بادغیس او هرات) او نورو سیمو کي وده کړیده. د دري ژبي لومړني ادیبان او شاعران لکه (حنظله بادغیسي) او (رودکي سمرقندي) په خراسان، بلخ او باختر کي ژوند کاوه. د دري ژبي د نظم او نثر لومړني اثرات د خراسان په ناحیه کي پیدا سول. د همدی له کبله، ددوی د اثارو سبک ته دخراساني سبک ویل کیږی. خراساني سبک، چي د دري ژبي لومړني او قدیمي آثار باندي لیکل سوي دي، هغه سبک ته ویل کیږي، چي به مشرق یا نني افغانستان او په ماورالنهر(منځنی آسیا) کي منځ ته راغلی دی. ددي سبک په تاریخ کي د طاهریانو، غزنویانو، سفاریانو او سامانیانو امپراطورۍ شاملي دي، چي د دریمي څخه تر شپږمي هجري پیړۍ پوري وخت را نغاړي. د سلجوقیانو او خوارزم شاهانو د امپراطوریو په پراخیدو سره د دري ادبیات د ترکیي سهیل او سهیل لویدیځ، آذربایجان او عجمي عراق (نني ایران) ته هم خپاره سول، او د خراسانی سبک ترمنځ ته راتلو دري سوه کاله وروسته د شعر عراقي سبک منځ ته راغلئ. عراقي سبک تر اوومي، اتمي او نهمی پیړۍ پوري محدود پاته سو. د اوومي پیړۍ اوایل هغه وختونه دي، چي مغولان په منځنی آسیا، باختر او خراسان باندي بریدونه کاندي، هغه ادیبان او پوهان، چي ددوی د حملو څخه روغ وتلي وي؛

قونيي، تبريز، اصفهان، شيراز، بغداد او نورو هغو علاقو ته چي هلته ددوی مادي او معنوي زيرمي د مغولانو له حملو او غارته په امان وي تښتي.

ژبه يوه ژوندۍ او د ودي په حال پديده ده، چي د سيمي او نړۍ د فرهنګونو او کلتورونو سره د اړيکو په پراختيا کې لا بډايه کيږي. د بنګله ديش، پاکستان، سريلانکا، هندوستان او پاکستان د علم او صنعت د پرمختګ او نسبت ايران او افغانستان ته په نړيواله سطحه د نوموتو پوهانو، سياستمدارانو، مديرانو او مشاورينو درلودلو يو لامل هم په ښوونځايونو او تعليمي موسساتو کې، انګليسي ژبي ته ددوی لاسرسی او د هغه څخه استفاده ده. د بهرنۍ نړۍ د ژونديو ژبو سره د دري ژبي د اړيکو زياتوالي بې له شکه دا ژبه بډايه کړې ده. د معلم، متعلم، محصل، تحصيل، مکتب، کتاب، کتابچه، حساب، هندسه، الجبر، والي، ولايت، نجوم، منجم او دې ته ورته زرهاوه نوري کليمې او لغاتونه عربي ريښې لري، خو په تيرو ديارلس سوه کلونو کې په دري کې شامل سوي او ددي ژبي نه جلاکيدونکي برخي ګرځيدلي. هماغسي چي د لاتيني، فرانسوي، عربی، هندي، سانسکريټ، آلماني او لسهاوه نورو ژبو زرګونه لغاتونه په انګليسي ژبه کې سته، او نن ئي هم خلګ پرته له کوم تبعيضه وايي، د انګليسي څخه ددي کلماتو د ايستلو هيڅ کوم کوښښ نه سوئ دئ او نه به وسي. يوازي متعصبين، شوونيسټ نشنليستان، او د تاريکو مغزو او افکارو خاوندان په خپله ژبه کې د ګډوله سويو خارجي لغاتونو د ايستلو هڅي کوي، او د خپلي ژبي په ريښو کې تيشه وهي. دوی لکه چي په دې نه پوهيږي، چي دا عمل ئي خلګ به خاصه بيا د علم او معرفت تږي ځوانان د بهرنۍ نړۍ څخه ليري کوي.

پای